بسم الله الرحمن الرحیم

# اې د اسلامي خاورو واکمنانو واورئ او فکر وکړئ...

**(ژباړه)**

له یوې خوا د غزې پر وړاندې وحشیانه جګړه روانه ده او له بلې خوا د مسلمانانو لښکرې په ځانګړې توګه هغوی چې فلسطین ته نږدې دي په داسې حال کې غلې دي او مداخله نه کوي چې په غزه کې د یهودیانو لخوا شپه او ورځ عاموژنه روانه ده. له دغې وحشیانه جګړې څخه اوس د کفري اشغالګرو هېوادونو په ځانګړې توګه د امریکا او برېتانیې له خوا د فلسطین لپاره د دوه دولتونو د حل لارې له وړاندې کولو سره ملاتړ کیږي. دا حل لاره اصلا د فلسطین پر اکثریت خاوره د یهودي دولت رامنځته کول او په ځینو هغو کوچنیو برخو کې چې غیر نظامي تعریف شوي دي فلسطینیانو ته دپناه ورکول دي! دا حل لاره د مسلمانانو د خاورو او په ځانګړې توګه د فلسطین په شاوخوا کې د عرب هېوادونو د واکمنانو پر ژبو په کراتو تکرار شوې ده او فلسطیني اداره د دې غوښتنې په سر کې ده.

لومړی شاوخوا پنځوس ورځې پر غزې وحشیانه یرغل روان و. وروسته د یهودانو له خوا د یوې اونۍ لپاره اوربند وشو. له یوې اونۍ وروسته یې اوربند لغوه کړ او په ډېر وحشت سره یې خپل بریدونه پرته له دې چې اسلامي لښکرې مداخله وکړي بیا پیل کړل. دا هر څه د دې لپاره وشول، ترڅو داسې وښیي چې یهودي دولت یو مهم او پیاوړی قدرت دی، داسې قدرت چې د مسلمانانو لښکري اصلاً له دوی سره د مبارزې توان نه لري. دوی غواړي په دې ډول د دوه دولتونو د ناوړه پروژې په اړه خبرو اترو ته لار پرانیزي او دا کار له الله سبحانه وتعالی، د هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانو سره لوی خیانت دی.

**اې د اسلامي خاورو واکمنانو:**

یهودان او دولت یې د جنګ او بریا خلک نه دي، بلکې دوی هغه قوم دی چې په اړه یې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ** [عمران:۱۱۱]

**ژباړه:** دوی تاسو ته هېڅ ډول ضرر نه شي اړولی، یوازې دومره کولی شي چې تاسو په تنګ کړي. که دوی له تاسو سره وجنګیږي، نو دوی به په جنګ کې تاسو ته شا واړوي او داسې به بې وسه شي چې له هېڅ لوري به ورته مرسته نه رسیږي.

تاسو وینئ چې مومن ځوانان د یهودانو په پرتله د کمزورو او لږ شمیر وسلو په مرسته له یهودانو سره جګړه کوي، خو یهودان پرې تر نن پورې بریالي شوي نه دي. فکر وکړئ، که چېرې دې جګړې ته د مسلمانانو لښکرې دننه شي، د مسلمانانو ټول لښکر هم نه، یوازې هغوی چې د فلسطین شاوخوا پراته دي او یا حتی دوی هم ټول نه، بلکې یوازې ځینې یې حرکت وکړي، نو د یهودي دولت به هېڅ نښه هم پاتې نه شي.

فلسطین اسلامي خاوره ده، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فتحه کړه، صلاح الدین ایوبي ازاده کړه او عبدالحمید ثاني وساتله. دا د پلورلو جنس نه دی. دا خاوره د خپلو خلکو ترمنځ تفرقه او د خپل ځان داسې ویش نه مني چې یوه برخه یې د داسې اشغالګرو لخوا اشغال وي چې دوی ترې خپل خلک (ښتنان) وشړي. د دې خاورې حل لاره د دوه دولتونو حل لاره نه ده، بلکې اصلي حل لاره یې هغه ده چې عزیز او جبار الله سبحانه وتعالی بیان کړې ده:

**وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ** [بقره:۱۹۱]

**ژباړه:** له دوی سره چې هر چېرته مخ شوئ وجنګیږئ او له هغه ځایه یې وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یاست.

**اې د اسلامي خاورو واکمنانو:**

ایا په غزه کې د شپیتو زرو مسلمانانو شهادت او ټپي کېدل کافي نه دي چې پر ملاتړ یې لښکرې بسیج او حرکت ورکړئ!؟ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ** [انفال:۷۲]

**ژباړه:** کله چې څوک د دین لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې دوی ته نصرت ورکړئ.

ایا د غزې د ماشومانو چیغې، د میندو ژړا، د دردېدلو اهونه او د زړو ښځو او سپین ږیرو فریادونه کافي نه دي، چې په ملاتړ یې لښکرو ته حرکت ورکړئ!!؟

ایا د عام وژنو دوام، د شهیدانو د جسدونو او د بدن د غړو ټوټې کول او د غزې تر خاورو لاندې د شهیدانو او ټپیانو وینې د غزې د خلکو د ملاتړ او نصرت لپاره کافي نه دي!!؟

ایا تاسو یې نه وینئ؟ نه یې اورئ؟ ایا په رګونو کې مو د هاشم د غزې د نصرت لپاره وینه په جوش نه راځي!!؟

ایا تاسو د الله سبحانه وتعالی، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د مؤمنانو پر وړاندې شرم نه کوئ چې نصرت نه ورکوئ؟ په حقیقت کې د بخاري په حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ریښتیا ویلي دي. هغه وایي چې ادم روایت کوي چې هغه له شعبه منصور نه روایت کوي چې هغه وویل چې ما له ربیع بن حراش څخه اورېدلي دي چې هغه له ابو مسعود رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ»**

**ژباړه:** په حقیقت کې پر هغه څه چې خلک د پیغمبرانو له ویناو څخه پوهیږي هغه دا دي چې "که تاسو شرم ونه لرئ، نو هر څه چې وغواړئ هغه وکړئ".

**اې د اسلامي خاورو واکمنانو:**

موږ پوهیږو چې له کفري اشغالګرو په ځانګړې توګه له امریکا سره ستاسو وفاداري او له هغوی څخه ستاسو پیروي هغه څه دي چې تاسو د غزې او د غزې د مسلمانانو له نصرت څخه منع کوي، ترڅو خپل غیر شرعي قدرت وساتئ. تاسو دا له یاده ایستلي چې په دې کار سره مو نه یوازې خپل آخرت له لاسه ورکړی، بلکې د دنیا ژوند مو هم بایللی دی. په حقیقت کې به دغه اشغالګر کفار هغه وخت چې ستاسو په مرسته خپلو موخو ته ورسیږي، نو تاسو به د ځځلو په څېر کندو او ژورو ته وغورځوي او ستاسو د قدرت تختونه به چپه کړي. دا هغه څه دي چې دغو کفري اشغالګرو له هغو کسانو سره کړي چې له تاسو مخکې وکمنان وو او که پوه شئ، نو دا ستاسو لپاره یو عبرتناک درس دی. قوي او عزیز الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ** [حج:۴۶]

**ژباړه:** ایا دوی (سرغړونکي) په ځمکه کې ګرځېدلي راګرځېدلي نه دي، ترڅو یې زړونه عبرت اخیستونکي (حق) ته خلاص شوي وی او غوږونه یې د (حق) اورېدونکي ګرځېدلي وی؟ حقیقت دا دی چې سترګې نه ړندیږي، خو هغه زړونه ړندیږي (له حق ګرځي) چې په سینو کې دي.

**اې د اسلامي لښکرو سرتیرو:**

نیږدې دوه میاشتې کیږي چې په غزه کې ستاسو پر خویندو او وروڼو د یهودانو لخوا وحشیانه تیری پیل شوی او یهودي دولت په خپل ټول زور او وحشت سره د غزې د خلکو عام وژنه کوي، دوی ښځې، ماشومان، علماء او بوډاګان وژني او دا عام وژنه لا هم روانه ده. حاکمان د غزې د دغې عام وژنې او د خلکو د کورونو، روغتونونو، مسجدونو او ښوونځیو د ویجاړولو ننداره کوي، خو تاسو په غزه کې ستاسو د وروڼو له ملاتړ څخه منع کوي او تاسو هم د دې ټولو ظلمونو پر وړاندې بې حرکته، چوپ، او غلي یاست! ایا له دې نه وېرېږئ چې دغه چوپتیا به پر تاسو د قهار رب د غضب د نازلېدلو لامل شي؟

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ** [توبه: ۳۸-۳۹]

ژباړه: اې مومنانو! پر تاسو څه شوي دي، کله چې تاسو ته د الله په لاره کې د وتلو (قتال) وويل شي، نو تاسو په ځمکه درانده کېنئ. ایا تاسو د اخرت په مقابل کې د دنیا ژوند غوره کړی دی؟ که داسې وي، نو باید پوه شئ چې د دنیا د ژوند ټول وسایل او ټوله دنیا د اخرت په مقابل کې ډېر لږ یا هېڅ ارزښت نه لري. که چېرې تاسو د (قتال) لپاره ونه وزئ، نو الله سبحانه وتعالی به تاسو ته ډېر دردناک عذاب درکړي. تاسو به له منځه یوسي او پر ځای به مو بل قوم راپورته کړي او تاسو به الله سبحانه وتعالی ته هېڅ زیان ونه شئ رسولی. الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی.

ایا د دوو غوره پایلو (بریا یا شهادت) هیله نه لرې؟

[**يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ**] [صف:۱۲-۱۳]

**ژباړه:** الله سبحانه وتعالی به ستاسو ګناهونه وبښي او تاسو ته به هغه جنتونه درکړي چې ترې لاندې ویالې بهیږي او په دایمي جنتونو کې به غوره استوګنځي درکړي او دا تر ټولو ستره بریا ده. او هغه بل نعمت (دنیوي نعمت) چې تاسو یې خوښوئ، هغه به هم درکړي، د الله سبحانه وتعالی نصرت او فتحه ډېره نیږدې ده او مؤمنانو ته زیری ورکړه.

ایا په دنیا او آخرت دواړو کې د عزتمن کېدلو هیله او ارمان نه لرئ؟

**اې د اسلامي لښکرو سرتیرو:**

په غزه کې خپلو وروڼو او خویندو ته د نصرت په ورکولو کې بیړه وکړئ. که واکمنان ستاسو مخه نیسي، نو دوی په هره ممکنه لاره له مخې لرې کړئ. په مبارکه خاوره کې د خپلو وروڼو او خویندو نصرت وکړئ او د یهودانو لپاره ماتې داسې قطعي کړئ، لکه څنګه چې په القدس شریف کې د صلیبیانو او په عین جالوت کې د مغولو لپاره ماتې پرېکنده او قطعي وه. په دې ډول به ټول فلسطین داسې د اسلام او مسلمانانو وګرځي لکه څنګه چې مخکې و. دغه مبارکه خاوره به بیا د خلافت تر بیرغ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رأیې تر سیوري لاندې وي، ځکه چې دا د اسراء او معراج مبارکه خاوره ده ... خپله هم مبارکه خاوره ده او شاوخوا یې هم مبارکه ده.

**سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ** [اسرأ:۱]

**ژباړه :**هغه ذات پاک دی چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد الحرام څخه تر مسجد الاقصی پورې چې د هغه شاوخوا یې برکتي کړه، یووړ، ترڅو پرې خپلې ځینې نښې وګورو. په حقیقت کې همدغه الله سبحانه وتعالی د هرڅه اورېدونکی او لیدونکی دی. [اسراء: 1]

**اې سرتېرو راوړاندې شئ**، د هاشم په غزه کې د خپلو وروڼو او خویندو نصرت وکړئ. د الله سبحانه وتعالی نصرت وکړئ، ترڅو هغه سبحانه وتعالی ستاسو نصرت وکړي.

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ * وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْساً لَهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ * ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ** [محمد:۷-۹]

**ژباړه:** اې مؤمنانو، که تاسو د الله سبحانه وتعالی دین ته نصرت ورکړئ، نو الله سبحانه وتعالی به تاسو ته نصرت درکړي او ستاسو قدمونه به محکم کړي. او هغه کسان چې کافران شوي دي، د دوی لپاره هلاکت دی، الله سبحانه وتعالی د دوی عملونه ضایع کړي دي. د دې لامل دا دی چې دوی دغه قران چې الله سبحانه وتعالی نازل کړی دی بد وګاڼه (په حکم یې عمل ونه کړ)، نو الله سبحانه وتعالی د دوی عملونه له منځه یووړل.

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادی الاولی ۲۰مه**

**۲۰۲۳م کال، د ډسمبر ۴**

**حزب التحریر**